# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**15سنبله _سال 1402**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


ننگرهار کې مسئولينو د کمپونو سروې او په اړه يې د پرېکړې نيولو په موخه مشورتي ناسته وکړه.-----------------1

رييس هماهنگی مساعدتها، غرض نظارت از تطبيق تفاهم نامه های عقد شده با موسسات، به ولايت هرات سفر کرد --2

په ننګرهار ولايت کې د دولتي ځمکو د برخليک د معلومولو په موخه د څېړنې ګډې کمېټې ناسته وکړه----------------3

23تن افغان آزاد شده از محابس پاکستان به وطن برگشت نمودند --------------------------------------------------4

د ايران څخه له دوه زرو زيات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول--------------------------------------------------5

قاچاق ۱۱ تن در يک موتر با ظرفيت پنج نفر در آلمان ------------------------------------------------------------5

يونان: پوليسو کوچني ټاپو کې ۱۵ افغان کډوال موندلي، يو تن مړ شوی دی ----------------------------------------7

فرانسه: کالي ته نږدې د شاوخوا سلو کډوالو ترمنځ شخړه----------------------------------------------------------8

# متن کامل اخبار

## ننګرهار کې مسئولینو د کمپونو سروې او په اړه يې د پرېکړې نیولو په موخه مشورتي ناسته وکړه .

د وزارت ویب سایت



د ننګرهار مرستیال والي مولوي سعید احمد بنوري، د کرنې وزارت مالي او اداري معین مولوي فضل الباري فضلي، د کډوالو وزارت د داخلي بې ځایه شویو چارو رئیس مولوي سردار شېرزاد او د قومونو او قبایلو چارو وزارت د کوچیانو چارو رئیس مولوي ګلزرین د شیخ مصري، کابل کمپ، تګاب کمپ او فارم هډې کمپ هر اړخیزې سروې او په اړه یې د پرېکړې نیولو په موخه د مرستندویه ادارو استازو سره مشورتي ناسته وکړه.
د يادې ناستې پر مهال د ولایت مقام دفتر رئیس مولي شاهد نوراني، د اقتصاد رئیس مولوي امین الله شریف، د کډوالو چارو رئیس حاجي باز محمد، د کرنې رئیس مولوي عبدالستار محمد، د ولایت مقام ویاند قاري قاضي ملا عادل او نورو مسئولینو حضور درلود.
د ننګرهار مرستیال والي مولوي سعید احمد بنوري وویل، چې په ننګرهار کې د ګڼ شمېر ولایتونو داخلي بې ځایه شوې کورنۍ په دولتي ځمکو کې ژوند کوي، چې مرکز یې د سرنویشت ټاکلو په موخه پلان لري او په دې برخه کې یې د مرستندویه ادارو څخه د همکارۍ غوښتنه وکړه.
د کرنې وزارت مالي او اداري مرستیال مولوي فضل الباري فضلي او د کډوالو چارو وزارت د داخلي بې ځایه شویو کورنیو د چارو رئیس مولوي سردار شېرزاد وویل، چې دوی د څلورو کمپونو شیخ مصري، کابل کمپ، تګاب کمپ او فارم هډې کمپ د کورنیو او وګړو د شمېر او امکاناتو په اړه سروې کوي، چې معلومات به یې مرکز سره شریک او وروسته به لازمه پرېکړه تر سره شي.

دوی له مرستندویه ادارو له مسئولینو وغوښتل، چې سروې، او د یادو کمپونو په اړه د پرېکړې پر مهال ور سره لازمه همکاري وکړي.
په ننګرهار کې د ملګرو ملتونو د نړیوالو مؤسسو استازو په خپلو خبرو کې وویل، چې دوی به یاده موضوع خپلو مرکزي دفترونو سره شریکه کړي، چې د ا.ا پرېکړې سره سم به د خپلو امکاناتو له مخې همکاري وکړي.
دوی همدا راز سروې او نورو بېلابېلو برخو کې د چمتووالي ډاډ وښوده همدا راز یې وضعیت ته په کتنې د تخلیې، مېشته کېدنې او انتقال په اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل.

## رییس هماهنگی مساعدتها، غرض نظارت از تطبیق تفاهم نامه های عقد شده با موسسات، به ولایت هرات سفر کرد

ویب سایت وزارت




مولوی عبدالرحمن رحمانی، رییس هماهنگی مساعدتها، در جریان سفر در ولایت هرات ضمن بازدید از ریاست امور مهاجرین آنولایت ونظارت از تطبیق تفاهم نامه ای امضا شده با موسسات، در توزیع مساعدت نقدی برای95 نفر از افراد نیازمند شرکت نمود.
کمک یاد شده برای هر نفر، 300 دالر بود که از طرف موسسه ان آر سی تهیه شده بود.

## په ننګرهار ولایت کې د دولتي ځمکو د برخلیک د معلومولو په موخه د څېړنې ګډې کمېټې ناسته وکړه

د وزارت ویب سایت




د امیرالمؤمنین حفظه الله په حکم د رئیس الوزراء له لوري ټاکل شوي د کرنې، کډوالو او قبایلو چارو وزارتونو ګډ پلاوي په ننګرهار ولایت کې د کانال او نورو دولتي ځمکو باندې د مېشتو اوو کمپونو او کوچیانو د سرپناه برخلیک ټاکلو او څېړنې په موخه د وږي په ۱۳مه د ولایت مقام د ناستو په تالار کې غونډه وکړه.
یاد پلاوي د کمپونو د لیدنې او څېړنې وروسته په یاده ناسته کې، چې د سیمه ییزو چارواکو او کوچیانو استازو پکې شتون درلود ټینګار وکړ، چې راټول شوي معلومات به له لوړ پوړو چاروکو سره شرک کړي ترڅو وروستۍ کړنې ترسره شي.
همدارنګه په ناسته کې د کمپونو د اوسېدونکو یادونه وشوه او ویې ویل: چې په کمپونو کې ډېری هېوادوال بې وزله او اړمن دي او د دوی د قربانیو او بې وزلیو په پام کې نیولو سره باید له دوی سره د مهربانۍ له مخې چلند وشي.
د ننګرهار مرستیال والي مولوي سعید احمد بنوري وویل: چې ولایتي اداره د امیرالمؤمنین حفظه الله د ټولو حکمونو او فرمانونو په تطبیق کې جدي اقدامات کوي او له مرکز څخه راغلي پلاوي ته یې د هر راز همکاریو ډاډ ورکړ.
د کرنې وزارت مالي او اداري معین مولوي فضل الباري فضلي وویل: چې دولتي ځمکې د بیت المال برخه ده، چې په کې ټول هېوادوال حق لري او مونږ هڅه کوو، چې راتلونکو نسلونو ته بنیادي میراثونه وساتو.
د مهاجرینو چارو وزارت د داخلي بې ځایه شویو وضعیت ته د رسېدو رئیس مولوي سردار شېرزاد وویل: چې په مرکز کې یې زرګونه بېځایه شوې کورنۍ خپلو سیمو ته لېږلې دي او د ننګرهار کمپونو په اړه؛ که د مشرتابه مقام هر ډول حکم وکړي دوي به اړونده ادارو سره په همغږۍ ورته چمتووالي ونیسي.
د قومونو او قبایلو چارو وزارت د کوچیانو برخې مسؤول مولوي ګلزرین د دولتي ځمکو، ونو او بوټو ساتنې او کوچیانو ژوند ته پاملرنې په موخه د ټولو هېوادوالو ګډ مسؤولیت وباله او هیله یې وښوده، چې ګډ پلاوی به د دوي ستونزو حل په موخه لازمې هڅې تر سره کړي.

**دکمپونو په استازيتوب د فارم هډې کمپ مشر حاجي ملا محمد وويل: چې دوي غاصبين نه دي، کالونه وړاندې د جګړو پر مهال د وخت مسؤولينو نورو هېوادونو ته د کډوالی مخنيوي په موخه دلته مېشت کړي دي او هيله يې وښوده، چې پرې بنديزونه ختم او د سرپناه په موخه ور سره د ترحم له مخې چلند وشي.**

**د ويلو ده، چې په ننګرهار کې ۷کمپونه چې شاوخوا ۲۰زره کورنۍ په کې مېشتې دي په دولتي ځمکو کې جوړ شوي دي.**

**د غصب مخنيوي کميسيون په دې وروستيو کې د تخليې او د کورنيو خپلو اصلي مېنو ته دلېږلو پرېکړه کړې وه؛ خو دخلکو د عريضو له مخې پلاوي د دې کورنيو د سرنويشت معلومولو په موخه بياځلي څېړنې پيل کړې.**

## 23تن افغان آزاد شده از محابس پاکستان به وطن برگشت نمودند

ویب سایت وزارت



**23تن افغان آزاد شده از محابس پاکستان و رد مرز شده، به تاریخ 13 سنبله ازطریق تورخم به وطن برگشت نمودند.**
**به گفته آمر سرحدی تورخم افراد یادشده مدت یک الی 3 ماه را در محابس پاکستان محبوس بودند و پس از رهایی از طریق تورخم به وطن عودت کردند.**

**منبع علاوه نمود که افراد مذکور بعد از ثبت در اداره مهاجرین جهت دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند و کرایه برگشت به محلات اصلی شانرا بدست آوردند.**

**همچنان از میان افارد مذکور دو طفل زیر سن 18 سال، جهت شناسایی به خانواده های شان، به موسسه بازسازی افغانستان بلند معرفی شدند.**

## د ایران څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت




**د ایران څخه دوه زر ه او ۲۸۹ تنه افغان مهاجر د وږي په ۱۳ مه هېواد ته راستانه شول.**
**د هرات ولایت د اسلام قلعه د سرحدي آمر په خبره د یادو راستنېدونکو له ډلې۱۰۱۴ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول، چې ورسره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې وشوې.**

## قاچاق ۱۱ تن در یک موتر با ظرفیت پنج نفر در آلمان

مهاجرنیوز



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



پولیس یک جوان ۱۸ ساله را بازداشت کرد که دست کم ۱۱ تن را در یک موتری با ظرفیت پنج نفر انتقال می‌داد. پولیس می‌گوید که این جوان جواز رانندگی نداشته است .

به گزارش پولیس فدرال آلمان در روز دوشنبه (۴ سپمبر ۲۰۲۳) سرنشینان موتر گفته اند که در نزدیکی مرز مجارستان حتی برای یک خانواده چهار نفره نیز به غیر از آن ها در این موتر جای داده شده بوده است. تا این که فرد مظنون پس از مشاجره بر سر وضعیت جا در موتر، در روز شنبه، محل را بدون آن ها ترک کرده است .

بیشتر بخوانید :پولیس اتریش شش فرد مظنون به قاچاق انسان را بازداشت کرد

گفته می‌شود که معلوم نیست این خانواده در کجا به سر می‌برد. پولیس در ادامه گزارش داد که ۱۱ تن دیگر مجبور بودند در یک جنگل انتظار بکشند و بعد دیرتر دوباره اجازه یافتند سوار موتر شوند.

این پناهجویان قاچاق شده به گفته خودشان از کشورهای ترکیه و سوریه هستند.

این جوان ۱۸ ساله که مظنون به قاچاق آن ها است، طی کنترول در ناحیه کیفرس‌فلدن توسط ماموران پولیس فدرال دستگیر شده و به بازداشتگاه موقت انتقال داده شد. او که بنا به گزارش ها شهروند سوریه است، بدون مدرک قانونی در آلمان زندگی می‌کند و به دستور یک سازمان قاچاق انسان این کارها را انجام داده است.

بیشتر بخوانید :کرواسیا ۱۱ تن را به اتهام قاچاق انسان دستگیر کرد

پولیس تحقیقات علیه او را به جرم قاچاق شهروندان خارجی در شرایط خطرناک و غیرانسانی، تلاش برای ورود غیرقانونی و رانندگی بدون گواهینامه، آغاز کرده است.

یکی از مهاجران قاچاق شده که نمی‌خواست درخواست پناهندگی بدهد به پولیس اتریش تحویل داده شد.

## یونان: پولیسو کوچني ټاپو کې ۱۵ افغان کډوال موندلي، یو تن مړ شوی دی

مهاجرنیوز




یوناني چارواکي وايي چې د دغه هېواد سمندري ځواکونو نن سه شنبه د اژې سمندر له فارماکونیسي ټاپو څخه ۱۵ کډوال موندلي دي. د دغه کډوالو له ډلې یو تن مړ شوی دی.

د یونان د فارماکونیسي بندري ځواکونو په یوه خبرپاڼه کې لیکلي دي چې ژوندي پاتې شوي کسان چې په ډله کې یې شپږ ښځې او درې ماشومان هم دي لېږوس ټاپو ته لېږدول شوي دي. د دغې پېښې په اړه پلټنې پیل شوې دي.

د پولیسو یوه ویاند د عیني شاهدانو له قوله ویلي دي چې ژغورل شوي ۱۴ تنه ټول افغانان دي.

فارماکونیسي د یونان او ترکیې ترمنځ اوبو کې پرته ده. هر کال ګڼ شمېر کډوال هڅه کوي چې د اژې سمندر له لارې ځانونه یونان او وروسته نورو اروپايي هېوادونو ته ورسوي. دغه سیمه کې د یونان ساحلي ځواکونه د اروپا د پولې ساتنې ادارې یا فرانټکس سرتېرو سره یو ځای ګزمه کوي.

بیا ولولئ :<u>یوناني ځواکونو اژه سمندر کې نږدې ۸۰ کډوال ژغورلي دي</u>

په ۲۰۱۴ کې د فارماکونیسي په اوبو کې د کډوالو د یوې کښتۍ ډوبېدو له امله د ۸ ماشومانو په ګډون ۱۱ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړی و. د اروپا د بشري حقونو محکمې په ۲۰۲۲ کې یونان د کډوالو د کښتۍ ډوبولو په تور پړ وباله.




**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**هغه وخت عيني شاهدانو محکمې ته ويلي وو د يونان د ساحلي ځواکونه چې په تېزرفتاره کښتۍ کې سپاره ول غوښتل چې ياد کډوال د يونان له اوبو څخه په شا وتمبوي.**

**تر ۱۷۳۰۰ زيات کډوال**

**اژه سمندر د تېرې اونۍ په لومړۍ ورځ کې د يوې غميزې شاهد و. تېره دوشنبه د لېسبوس او ساموس ټاپوګانو په ساحلي اوبو کې د کډوالو دوه کښتۍ ډوبې شوې چې له امله يې <u>څلورو ماشومانو او يوې ښځې خپل ژوند له لاسه ورکړ</u> .د يونان حکومت د وياند په وينا ساحلي ځواکونو له دغو دوو پېښو څخه ټولټال ۵۴ کسان ژغورلي وو.**

**له تېرو دوو مياشتو راهيسې د ترکيې سواحلو ته څېرمه د يونان په ختيځو ټاپوګانو کې چې په اژه سمندر کې پراته دي د اوښتونکو کډوالو په شمېر کې زياتوالی راغلی دی.**

**د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د وروستيو شمېرو له مخې د روان کال له پيل څخه تر دې دمه تر ۱۷۳۰۰ زيات کډوال د اوبو او وچې له لارې يونان ته رسېدلي دي. له دغې ډلې څخه نږدې ۱۳۴۰۰ تنو يې د سمندر له لارې ځانونه يونان ته رسولي دي.**

## فرانسه: کالي ته نږدې د شاوخوا سلو کډوالو ترمنځ شخړه

مهاجرنيوز



د فرانسې د پوپلنګ په بل وو سیمه کې پرون دوشنبه د شاوخوا سلو کډوالو ترمنځ نښته رامنځته شوه چې په ترڅ کې یې دوه تنه په سطحي توګه ټپیان شول .

د رسنیو د راپورونو له مخې د فرانسې د شمالي ښار پوپلنګ په بل وو سیمه کې چې کالې ته نږدې موقعیت لري پرون دوشنبه سهار د کډوالو د یوې ډلې ترمنځ نښته رامنځته شوه.

لا وا دو نور ورځپاڼې د کالي د ژاندارمرۍ چارواکي نیلېن له قوله ویلي دي چې نښته د شاوخوا سلو کډوالو ترمنځ رامنځته شوه چې د سوډان، عراق او ویتنام اتباع وو. پولیسو ته د سهار په ۸ نیمو بجو د یادې پېښې په اړه خبر ورکړل شو.

ښاغلي نیلېن زیاته کړې ده: «کله چې موږ سیمې ته ورسېدو هلته وضعیت لا هم ترینګلی و».

لږ وروسته یو شمېر کډوالو امنیتي ځواکونو ته وویل چې یوې مافیایي ډلې وهلي ډبولي او غوښتل یې چې د هغوی پیسې غلا کړي. دغو کډوالو پلان درلود چې د انګلیس کانال له لارې ځانونه برېتانیا ته ورسوي.

بیا ولولئ :کالې ښار: د دوو کډوالو ترمنځ شخړه کې یو ایرانی سخت ټپی شوی

امنیتي تدابیر

ورځپاڼې لیکلي دي چې امنیتي چارواکو د وضعیت د کنټرول په موخه نږدې ۳۰ ژاندارم ځواکونه، ۱۵ سرتېري، ژغورونکي او څو موټرونه یادې سیمې ته واستول. همدارنګه د احتمالي ټپیانو د موندلو لپاره له یوې چورلکې او بې پیلوټه الوتکو څخه کار واخیستل شو.

د پولیسو په حواله په دغه پېښه کې یو عراقی کرد او سوډانی چې عمرونه یې د ۲۰ او ۳۰ ترمنځ دي په سطحي توګه ژوبل شوي دي. دواړه کسان د درملنې لپاره د کالې روغتیایي مرکز ته یووړل شول.

بیا ولولئ :انګلیس کانال: دری سرتېري له کډوالو سره شخړه کې ژوبل شوي

چاروکو زیاته کړې ده چې ویتنامي کډوال چې شمېر یې ۱۵ تنو ته رسېد د فرانسې سرحدي پولیسو ته سپارل شوي خو پاتې نور بیا خوشې شوي دي. تر دې مهاله د دې پېښې اصلي علت نه دی په ډاګه.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*